د خپل رب د لارې په لورې په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه (دعوت) ورکړه او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه چې ډېره غوره وي. ( سوره النحل ، 125 ایت )

موسس او مسئول چلوونکی:

**محمد طارق بزګر**

د تأسیس نیټه:
1367ل،(۱۹۸۸م)

Dawat Media,
V/M. Tariq Bazger
Vold gt. 37A, 2000
Lillestrom, Norway


# دعوت

## ملي، خپلواکه خپرونه


www.dawatmedia24.com
ISBN: 978-82-691395-2-5


### ملي سندره

ځو چې دا مځکه آسمان وي
ځو چې دا جهان ودان وي
ځو چې ژوند په دې جهان وي
ځو چې پاتې يو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوريت
تل دې وي ملي وحدت


Vol. 239-240 Dec. 2020 پرله پسې ګڼې ۲۳۹ ـ ۲۴۰




## د دعوت خپروني دوه دېرشمه (۳۲)

## کلیزه مو مبارک

د ګران هېواد روان حالت له هيچا پټ نه دی افغانستان د ورو پرمختګ په ځنګ کې لوېې استخباراتي او د سيمه ايزو هېوادونو د نيابتي جګړو، ګټو، وحشتونو په بېرحمه اور کې سوځي. له يوې خوا عام افغانان د حکومت دننه د ډول ډول فساد له امله فکرمند دی او له بلې خوا ورسره د جنګي جنايتکارانو او جنګي ډلو نازول او په کړنو، وسلو، مليشو او جنايتونو يې سترګې پټول هغه څه دی چې د نظام اډانه يې له دننه د خطر سره مخامخ کړې ده، د افغان ولس اندېښنې لاپسې زياتې کړي دی.

افغان ولس د ولسمشر او ټول حکومت څخه د دغو جنايتکارونو مليشو د ځپلو او له حکومت څخه ګوښه کول او هر ډول امتيازات ترې بندول غواړي

مليشې او جنګې ډلې لکه د محقق، دانش او خليلي او شمال ټلوالې د ټوپکيانو نازول د ملي اردو او امنيتي ځواکونو په شتون کې د مليشو ساتل، پالل او په وجود يې سترګې پټول نظام له دننه خوړل او د دښمن په ګټه کړنې دي. قانون بايد په ټولو هغو په وړاندې چې د نظام په وړاندې يې ټوپک پورته کړی وي يوشان وي، د نظام هر ډول دښمن بايد پرته له تفکيکه يو شان وټکول شي او که نه په نژدې راتلونکې کې به هېواد، نظام او حکومت د لويو ازمېښتونو او ننګونو سره مخ کړي.په افغانستان کې د ايران په مليشو (فاطميون) سترګې پټول د افغان ولس د ارمانونو سره خيانت دی.

ستاسو د هر ډول قلمي همکاريو په هيله

دعوت ستاسو او ستاسو له پاره او تاسو د خپل دعوت ياست

دعوت له ۱۹۸۸ - ۲۰۱۸

مينه او درنښت

محمد طارق بزګر

نور مطالب:


ـ دعوت مېډيا د افغان ولس غږ (۲) مخ
ـ دعوت مېډيا ستاسواو ستاسو له پاره (۲)
ـ ټکنالوژي او د وخت ارزښت: قدرت الله هېواد پال (۳) مخ
ـ د قضاوت ځټک: نور احمد عايل (۴) مخ
ـ ډاکتر باطن شاه صافی ستره علمې ستېه او نيمګړې نړی (۵)
ـ څو سپارښتنې (٦) مخ
ـزمری، ګیدړ او خر


### شپېه کهيځ د دعوت د دې ګڼې شاعره

له ۷ تر ۸ مخونه




### د دعوت د يوديرشمې کليزې په وياړ يو څو نظرونه:

له ۱۰ تر ۱۳ مخونو پورې


ـ د دعوت مجلې هره ګڼه د خپلو لوستونکو معلومات ورزياتوی: حبيب الله غمخور (۹) مخ
ـ ليکوال او ژورنالست، محمد طارق بزګر ليکوال: ولی الله ملکزی (۱۰- ۱۱) مخونه
زمری، ګیدړ او خر (۱۱) مخ


### دعوت مجله له دې وروسته په انلاين بڼه لوستلای او تر لاسه کولای شئ

**مخ پر وړاندې د خپلواک، سرلوړي، غښتلي، اباد او يو موټي افغانستان په لور**

# د دعوت خپرونې ۳۲مه کلیزه دې ټولو مینه والو ته مبارک وي

## دعوت میډیا د افغان ولس غږ

قدرمنو لوستونکو !

د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز ویاړي چې د خپلو رسنیزو فعالیتونو د لیارې د هیواد په دې ټاکونکو او حساسو شیبو کې په ملي افغاني روحیه د افغانستان په روانو حالاتو باندې په علمي څېړنو، تحلیلونو، او تبصرو له لارې خپل هیواد او هیوادوالو ته د خدمت مصدر گرځیدلي یو.

د دعوت ملي خپرونه د خاوري تمامیت، ملي گټو او د ملي یووالي د دفاع او ساتنې په مبارزه کې د افغاني پوهانو، عالمانو، لیکوالانو، او روښفکرانو د پاره د قلمي جهاد پرانیستلی سنگر، هڅه کوي د دعوت درنو لوستونکو ته د هیواد او ولس کورني او بهرني دښمنان وروپیژني او تر ممکن حده د دوی خاینانه دسیسې او توطیې شنډې او خنثی کړي.

په هیواد کې د سولې، ولسواکۍ، ټولنیز عدالت، وگړیزو حقونو، د مطبوعاتو خپلواکي، د قلم او بیان د ازادي، او ټول افغان ولس ته د ژوندانه د لومړنیو بنسټیزو اسانتیاو د برابرولو، او په لنډه که ووایو د دموکراتیکو لارو، نه د "زور، زر، او تزویر" د لارې، د افغانانو د غوڅ اکثریت په خوښه د یو غښتلی او منلي مرکزی ملي حکومت د جوړیدو منځ ته راتلل او د هغې ساتل او ملاتړ هغه موخه او هدف دی چې د هغه په رڼا کې د دعوت ملي خپرونه خپله مبارزه او سرښندنه مخ په وړاندې بیائي.

خو!

د دې ځراغ د روښانه ساتلو د پاره د گرانو لوستونکو مالي، قلمي مرستو او همکاریو ته د هر وخت نه خورا زیات ضرورت دئ، که زموږ د پالیسۍ او د دعوت د ملي خپرونې د محتوا سره موافق یاست نو موږ د دې جوگه کړئ چې د دعوت میډیا خپرونې او دعوت خپرونه د نړۍ او گران افغانستان گوټ گوټ ته ورسوو، او د هغه ناامیده هیوادوالو له پاره د امید ډیوې روښانه کړو، کوم چې د ډول ډول ناخوالو له امله یې خپل امید د لاسه ورکړی دی، او داسې چیرته چې افغان وي هلته دعوت وي یانې دا چې ډیرو هیوادوالو ته دعوت ورسیږي او زموږ هڅې به هله بیځایه نه وي چې یو زیات شمیر هیوادوالو ته مو دعوت رسولی وي او دې هدف ته رسیدل ستاسو درنو هیوادوالو او د دعوت مینه والو د مالي مرستو پرته ناشوني دي.

زموږ هیله د درنو لوستونکو څخه دا ده چې په دې لاره کې خپلې مرستې ونه سپموئ.

خپلې مالي مرستې په همدې مخ کې په لیکل شوې پته راواستوئ:

د بانک او یا هم د پاکټ په منځ کې د راجستر پوستې د لارې.

یو ځل بیا وایو :

((دعوت میډیا د افغان ولس پرته د هیواد د هیڅ سیاسي ډلې نمایندگي نه کوي او نه د خپلو خلکو پرته د چا پورې تړلې ده. دعوت میډیا د افغان ولس ریښتینی غږ او د هغو له پاره خپرونې کوي څوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئولیت احساس کوي. د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز د پخوا نه زیات اوس ستاسو مالي مرستو ته اړتیا لري))

ستاسو نه مخکې له مخکې مننه

د دعوت اداره

دعوت
ملي خپلواکه خپرونه
۳۲ کلیزه
۱۹۸۸ - ۲۰۲۰

## دعوت میډیا ستاسو او ستاسو له پاره

دعوت چې د ناروې د هیواد نه خپریږي. د افغان ولس پرته د هیواد د هیڅ سیاسي او غیر سیاسي ډلې استازیتوب نه کوي. دعوت د افغان ولس ریښتینی غږ او د هغو له پاره خپریږي څوك چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئولیت احساس کوي. په دعوت کې د خپرو شوو لیکنو مسئولیت د درنو لیکوونکو په غاړه دی او شرط نه دی چې هره لیکنه دې د دعوت د نشراتي پالیسۍ سره برابره وي.


**DAWAT MEDIA CENTER,**
V/ M. Tariq Bazger,
Voldgt.37A,
2001 Lillestrøm, Norway
**Tel. +47-63844384**
**Mobil: +47-90856195**



**ISBN: 978-82-691395-2-5**
**Orgnr (Reg#): 985160058**


**د انټرنت په نړیواله شبکه زموږ د ویبپاڼو پتې**

**د دعوت می ویبپاڼې:**

**www.dawatmedia24.com**

**www.afghansabawoon.com**

**زموږ د بریښنا لیک پته:**

**dawatmedia@gmail.com**

**د دعوت بانکي پته:**

**DNB Bank AC # 0530 2294668**

**له ناروې بهر د نړیوالو تادیاتو حساب**

**Account for international payments:**
**NO15 0530 2294 668**
**Vipps: #557320 :د ویپس شمېره**

**څنگه کولی شئ د دعوت میډیا مالي مرسته وکړی:**

خپلې مرستې (پیسې) د بانک په پته راولیږي. د دعوت مالي منبع د افغانستان خلك دي. د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز د فعال ساتلو او د شوو ژمنو د پوره کولو له پاره ستاسو مالي مرستې زموږ د بریالیتوب او لاښه پرمختگ زیری دی. هر افغان باید تر خپله وسه د خبرو پرځای د عمل ډگر ته راووځي، خپل مسئولیت احساس او پوره کړي وخت د عمل دی نه د خبرو.

# ټکنالوژي او د وخت ارزښت



قدرت الله هېوادپال

د ټکنالوژۍ اصل هدف د انساني توانونو بهترول دي، یا پر بله وینا د ژوند آسانول دي، د انسان په وده کې د ټکنالوژۍ له ارزښت انکار نه کیږي، له لیکلو نیولې تر بریښنا، انټرنېټ او ټلیفون او نن سبا خلاوو ته د انسانانو لیږل ټول د ټکنالوژیو بیلګې دي چې د انسان توانونه یې څو چنده لوړ کړي دي، زموږ دلته بحث د معلوماتي ټکنالوژۍ پر معاصرو وسیلو دي چې څرنګه د انسان د وخت ضیاع سبب ګرځي، او غیر مؤثر او ګټور استعمال یې دودیږي.

موږ مؤثریت د وخت د بهترې ګټې له نقطې نظره ارزوو، وخت محدوده پدیده ده، په بله وینا انسان په ژوند کې ټاکلی وخت لري او هڅه باید وکړي چې له همدې وخته بهتره ګټه واخلي، ورسره په پای کې ادارو لپاره د کارکوونکو د وخت ضیاع پر بیه هم لنډ غړیږو.



د ټکنالوژیو پر وړاندې مزاحمت د انسان د سلوک او عادت برخه ده، او تاریخ ترې ډک دی، کله چې د چاپ ماشین راغی نو عثماني خلافت یې تر دیرشو کلونو مخالفت کاوه تر څو چې ټوله نړۍ ترې مخکې ولاړ او د دوی د رکود سبب شو، د نن له ټکنالوژۍ سره مزاحمت هم څه نوې خبره نه ده، خو د نوې ټکنالوژۍ له نورو سره لوړ توپیر زموږ په ورځني ژوند کې د دې وسیلو بې حده تداخل دی، او که چیرې د دې "ځیرکو" وسیلو په استعمال کې څوک"ځیرکه" وانه اوسي نو ښایي چې له ګټې ډیر یې په تاوان تمام شي.

د ۲۰۱۰م کال یوه څیړنه چې د انټل مایکروپروسسر شرکت په مالي مرسته عملي شوې وه وایي چې په اوسط ډول د کمپیوټر کارکوونکی د کاري ورځې ۴۳ دقیقې د کمپیوټرونو پیلولو، بندولو، پروګرامونو پیلولو، فایلونو پرانیستلو او انټرنېټ سره پر نښلیدلو مصرفوي، دا د ۲۰۱۰ کال څیړنه ده، چې هغه وخت عموماً هر چا یوازې یوه کمپیوټري وسیله درلوده، اوس که له دې سره ګرځنده ځیرک ټلیفونونه هم مل کړو، نو چې څومره وخت پر دې ضایع کیږي.

داسې ګڼل کیږي چې په اوسط ډول هر شخص ته د ورځې ۱۱۰ څخه تر ۱۳۰ پیغامونه راځي. ټلیفون مو په اوسط ډول د ورځې ۳۵ ځلې ګورو، فیسبوک ته پنځه ځل سر ورښکاره کوو (هغوی چې ټوله ورځ یې پرانیستې پریږدي، هغه استثنایي بېکاره مخلوق دی)، او دا پنځه ځل سر ورښکاره کول په اوسط ډول نیم ساعت وخت نیسي.

د نن زمانې ځیرک ټلیفون خپل له ټلیفوني دندې زیات د ځیرکۍ په لور درومي، په اوسط ډول هر یو ساعت لپاره چې تاسې یې ټلیفون (اړیکو) لپاره مصرفوئ، پنځه نور ساعتونه انټرنېټ کتلو، بریښنالیک ځارلو، مسیجونو، ټویټ، فیسبوک او ټولنیزو رسنیو پر نورو چارو لګوئ.

یوه څیړنه ښیي هغوی چې ځیرک ټلیفون لري یا انټرنېټ ته لاسرسی لري، عموماً د میاشتې ٦۰ ساعته پر انټرنېټ تیروي، چې د کال نږدې ۷۲۰ ساعتونه کیږي، چې د کال نږدې ۹۰ کاري ورځې راځي، که د ورځې اته ساعته کار حساب کړو، چې پدې حساب کې ټولنیزو رسنیو ویبپاڼې، خبرونو کتل، یوټیوب، بلاګونه، بریښنالیک او نور راځي.

اوس که چیرې دا فکر وکړئ چې آنلاین ژوند یا آنلاین فعالیت ساتل پخپله هم له یوې پوره دندې کم نه دي، نو ښایي دا خبره دومره غلطه نه وي.

که همدا بحث له کاري اغېزمنتیا او بهتره کار سره وتړو، نو نوې نظرپوښتنې او ساحوي څیړنې ښیي چې د نن اکثریت کارکوونکي د ورځې یوازې ۱۵ دقیقې داسې وخت لري چې څوک یې مزاحم نه شي یا یو څه یې پاملرنه ماته نه کړي. د همدې څیړنې بل اړخ دا هم وایي چې هر کله موږ کار قطع شو نو همدا کارکوونکي د ورځې یو ساعت پر دې مصرفوي چې بیرته خپلې چارې ته راستانه شي، یا پر بله وینا یوه څیړنه ښیي چې هر کله ستاسې تمرکز قطع شو یعنې لاس لاندې چاره مو پریښوده چا سره پر خبرو شوئ یا ټلیفون ته مو پام شو یا ایمیل مو پرانیست، نو لږ تر لږه اتلسو څخه ۲۳ دقیقې وخت غواړئ تر څو بیرته خپله پاملرنه حاصله کړئ.

د نن ټکنالوژئ یوه ناوړه اغېزه دا ده چې انسان یې بې حوصلې کړی دی، د مفاهمې یو څیړونکی وایي چې د نن له انسان څخه تمه کیږي چې هر کله درته زنګ راځي باید وایې خلئ، پیغام ځواب کړئ او هر وخت ټلیفون خواته حاضر اوسئ، چې له کبله یې ټولو دا عادت اخیستی دی چې سملاسي باید هر څه ځواب کړئ، چې له کبله یې له خلکو یې د ارزښت او سملاسي والي تر منځ توپیر ورک شوی دی.

ځینې چارې مهمې وي او باید اجرا شي او بیا ځینې چارې باید همدا اوس اجرا شي، یعنې مهمې نه وي خو سملاسې پاملرنې ته اړتیا لري، او بیا


ځینې داسې چارې هم وي چې نه سملاسي وي او نه مهمې وي، اوس غم دا دی چې خلکو ته هر څه مهم ښکاري، او له مهموالي زيات غواړي هر څه سملاسي او همدا اوس اجرا کړي.

صبر او زغم مخ په کمیدونکې ماده ده.

د چارو تر منځ د ارزښت ورکوالي احساس بله اغېزه داده چې خلک په یوه وخت کې څو چارو ته لاس اچوي، او هر وخت مصروفه وي، او نن زمانه کې خلکو ته ځان مصروف ښودل د وياړ او افتخار يوه نښه ښکاري، سر ګرولو ته نه یم وزګار، خو همدې شخص ته باید وویل شي چې خبره ته مصروفیت نه ده، ته تر اوسه پدې نه پوهیږې چې څرنګه خپلو چارو ته ارزښت ورکړې او مهم له غیر مهم بیل کړې.

ډیر او دوامداره کار باید پر متوازن او مهم کار واوړي.

ډیرو وسیلو او ډیرو معلوماتو ته لاسرسی پخپله د ادارې په تاوان تمامیږي، په امریکا کې د کاروبارونو یوه څیړنه ښیي چې د معلوماتو ډیروالي له کبله امریکایي کاروبارونه ۲۸ میلیارده ساعته ضایع شوي وخت او ۱ ټریلیون ډالر تاوان ویني. ورسره دا هم وايي چې په اوسط ډول د ورځې اوسط کارکوونکی نیم ساعت د وسیلې یا شبکې ستونزې پر حلولو تیروي، چې په کال کې پنځلس ورځې د کمپیوټرونو یا ډیجیټیلي وسیلو د ستونزو حلولو له کبله ضایع کیږي.



په همدې وطن کې د ریل ګاډي پاټلیو پر وړاندې مزاحمت وشو، یا سرکونه اړول شوي دي، کله چې په لومړي ځل فورډ غوښتل موټرې تجارتي کړي، ډیرو خلکو پور نه ورکاوه ځکه هغوی فکر کاوه د آس او ټانګې ځای هیڅ نه نیسي، او تل به پاتې وي، یوازې په دوو – دریو کلونو کې کې د موټر پلور یې لس چنده ډیر شو. کله چې په لومړي ځل په اروپا کې د شپې په کوڅو کې ګروپونه ولګول شو نو کلیسا ورسره پدې دلیل مخالفت کاوه چې د الله په خلقت کې لاس وهل دي، او شپه باید تیاره وي او تاسې یې رڼا کوئ.

لدې سره یو اړخ دا هم دی چې انسان د نوي څه قبلولو ته ډیر ژر تیارېږي، خو د سلوکونو بدلول یې وخت نیسي، زموږ د بحث هدف د ټکنالوژیو بد ویل نه دي، بلکه د ټکنالوژیو بهتره استعمال لپاره د انساني سلوکونو ښه کول دي، خپل سلوک ته وګورئ، فکر وکړئ چې څومره وخت پرې مصرفوئ او پدې وخت کې څومره یې ضایع کول دي، ستاسې د سلوکونو بدلول باید تاسې ته توان درکړي تر څو وکولای شئ له دې وسیلو څخه د خپلې ودې لپاره اعظمي ګټه واخلئ.

هدف د وسیلې استعمال نه دی، بلکه د خپل او نورو ژوند بهترولو لپاره دې وسیلو کارول دي.

# د قضاوت څټک

**نوراحمد عایل**

- که په بیروبار کې یوهٔ سړي له موږ څخه موټر مخته کړ احمق دی او که موږ ترې مخته کړ چالاکه او بیدار یوو.
- که د موږ د تلیفون زنګ چا اوکې نه کړ کبرجن او بې مالکې دی او که یې موږ تلیفون اوکې نه کړ خو داده وینې مو چې مصروف یوو.
- که قد یې له موږ څخه جګ و، اوو!! دا څومره ډینګ دی! که یې قد له موږ څخه ټیټ و ,دې چرې ته ګوره !
- که مو ملګری کنجکاو او په هره خبره پسې ګرځېدهٔ یاره یو خو دی په هر شي کې هڅوکي لټوي او که موږ د هرڅه جزیات را سپړل بیا وایوو ځان پوه کول ډېر بهترین کار دی.




- که بل څوک د لمر لوېدو په طرف متیازو ته ناست و ګنهګار و بې دینه دی او که موږ ناست وو خو سر مو کوږ کړی دی.
- که له موږ څخه ډېر چاغ وي بزږن دی که له موږ څخه ډنګر وي کررن دی.
- که له موږ ډېر له خلکو سره غږېدهٔ کړتو دی، که د موږ په پرتله کم غږېدهٔ بې خولې دی.
- که یې له موږه کم عبادت کاوه بې لماځه و ناولی دی او که له موږه ډېر عبادت کاوه مخ دې تور چې داسې بزرګ و پاک سړی یې.
- که په اتاق کې مو پیاله چا په ناپامۍ کې په لغته ووهله ړوند دی لاړې ته نه ګوري او که موږ ووهله دومره بېعقل دی په لویه لاره کې یې پیاله ایښې ده.

د قضاوتونو نړۍ د خپل ځاني اړتیاوو، خوښنو او ارزښتونو په رڼا کې د نورو د حرکاتو، خبرو او عادتونو ارزیابي ده.

# ډاکتر باطن شاه صافي ستره علمي ستنه

# او نیمګړې نړۍ

د پوهنی شمعه می روښانه درته پریښوه-
چی بی ځایه درنه مړه نشی افغانانو

درنو هیوادوالو نن د یو د داسې شخص د ژوند په اړه یو لنډه لیکنه کوم چا چې د افغانستان د اوسنې او راتلونکې نسل لپاره خپلې نه ستړکیدونکې هلې ځلې کړې

ډاکتر باطن شاه صافی د میراحمد جان ځوی د ننګرهار ولایت د روداتو ولسوالی د زاخیلو په کلی کې په (۱۳۲۸ ه ش) کال کې زیږیدلی وو. ابتدائی تعلیمات ئ پخپل کلی کی کړۍ وو او 1341هـ.ش کال د هسکی مینی لمړنی ښوونځی د شپږم صنف څخه په لمړی درجه فارغ شو او 1342 ه.ش کال په کابل کی د رحمان بابا لسي په اوم صنف کی شامل شو او په 1347 کال کی د همدغی لیسی څخه په لمړۍ درجه فارغ شو او د شاهی دولث لخوا غربی المان ته د دولت په مصارفو د لوړو ځصیلاتو لپاره واسټول شو. په 1973 کال د جرمنی د ماینځ په ښار کی لیسانس واخیست او بیا د جرمنی د هایدلبرګ په پوهنتون کی د کمیا او بیولوژی او سانسی علومو کی ما ستری واخیسته. د ما سترۍ د دوری د تکمیل نه وروسته د هایدلبرګ په پوهنتون کی د اسیستانت په حیث مقرر شو او خپل تعلیم یی هم مخ په وړاندی بیوو. په 1975 م کال کی په همدغه پوهنتون کی په عضوی کمیا په څانګه کی PHD تر سره کړه او په 1977 کال کی دوهم مضمون یی د تعلیم او تربیه ولوسته .

د 1977 م کال په اخیر کی بیرته خپل هیواد ته راستون شو او د کابل پوهنتون د فارمسی پوهنځی کې د استاد په حیث مقرر شو. تقریباً د دوه کاله استادي وروسته کله چی شوروی اتحاد افغانستان اشغال کړ او ببرک کارمل یی د کابل واکدار کړ په 1980 م کال د مارچ میاشت کی د پوهنتون وظیفه پریښوده او د روسانو سره یی مخامخ جنګ شروع کړ. کله چی په مخامخ جنګ کی په لاس زخمی شو نو پښتونخوا ته مهاجر شو .






د استاد صافی د مهاجرت دندي:

1980څخه تر 1984 پوری د حزب اسلامی د تعلیم او تربیی د ریس په توګه وظیفه اجرا کړه - په پاکستان کی یی د لمړی ځل لپاره د مهاجرینو د ما شومانو د تعلیم او تربیی بنسټ او تهداب د پښتونخوا او بلوچستان په کمپونو کی کیښود. چی شمیر یی 200 لمړنی ښوونځی ته ورسید او هم یی دلمړی ځل لپاره په 1981 م کال کی د مهاجرینو لپاره د سیدجمال الدین افغان لیسه جوړه کړه. همدا رنګه د ابتدایی زده کړو د نصاب اساسی بنیاد کیښود . د لمړی ټولګی نه تر شپږم ټولګی پوری کتابونه ورته ولیکل شو.

استاد باطن شاه صافی د افغان مهاجرینو د اوو تنظیمونو د جوړیدو مخالف او پدی باره کی یی استاد هغه وخت خپلی اندیښنی او مشوری د مهاجرینو د رهبرانو سره شریکی کړی. مګر هغوی یی. یی اندیښنو او مشورو ته غوږ کینښود .هماغه وو چی په 1984 م کال کی د سویډن کمیټی ته د تعلیم او تربیی د بخش د ریس په توګه ولاړ او هلته د هغوی د تعلیم او تربیی د څانګی ریس شو. پاتی دی نه وی چی په سویډن کمیټی کی هم د تعلیم او تربیی اساس کیښود او تقریباً 250 څخه زیات لمړنی ښوونځی یی په ننګرهار، لوګر، کنړ، پروان، پنجشیر، پکتیکا، بدخشان، مزار شریف، هلمند، هرات او نورو ولایتونو کی په هغه مناطقو کی جوړ کړه چی د مجاهدینو په لاس کی وو. په دغه ښوونځی کی د ۲۵۰۰ ښوونکو لخوا تقریباً یو لک ۱۰۰۰۰۰ نارینه او ښځینه زده کوونکو ته تدریس ورکول کیده. همدا ر نګه ئی د سویډن د کمیټی د تربیی معلم څانګه هم فعاله کړه. باتجربه استادان ئی د سیار تیم په شکل د افغانستان د ښوونکو د درسی میتود او د روحیاتو د تدریس ورکولو لپاره ونیول چی تر ننه پوری دا بخش فعال دی. استاد صافی همدا رنګه د ریس د وظیفی تر څنګ د نصاب د کمیټی مدیر هم پاتی شوی وو چی د زده کوونکو لپاره ئی ۵۶ تدریسی کتابونه لکه پښتو، دری، دینیات، حساب، طبعی، تاریخ، جغرافیه، وغیره لیکلی وو. بر سیره پدی 2 کتابونه یی تربیی یی معلم څانګی ته لیکلی وو چی استادانو ته پکی مختلف میتودونه او ماشومانو روحی مسایل تشریح شوی دی. په ۱۹۹۶ م کال کی یی د سویډن د کمیټی تر څنګ د افغانانو لپاره د سویس د مرستو اداره هم خلاصه کړه. استاد د همدغی کمیټی په چوکاټ کی د شمشتو، ناصرباغ، کچه ګړۍ، خراسان، زاخیلو، جلوزو، باغوانانو، او نورو د مهاجرینو په کمپونو کی تاسیس کړه او بر سیره پر دي د تربیی معلم او اداری مسا یلو د پاره یو انسیتوت هم جوړ کړ چی په زرګونه تنو استادانو او زده کوونکو پکی زده کړی کولي.

همدا رنګه استاد په پشاور کی د هلکانو د پاره دری لسی رحمان بابا، میرویس هوتک او احداد لیسه او دری لیسی د جینکو لپاره ملالۍ، عایشه درانی او زرغونه آنا لیسی تا سیس کړی او په زرګونه زده کوونکی ورڅخه فارغ شوو. او ورسته دوی کابل، ننګرهار، پښور پوهنتونونه تعقیب کړ او ځنی یی اروپا او امریکا ته د همدی لیسو نه د تخصیل د پاره و لاړ او نن ورځ د افغانستان په مختلفو وزارتونو کی د وزیر څخه نیولی تر مدیر او مامور په خیث وظیفه اجرا کوی.

استاد صافی همدارنګه د طالبانو په دوره کی 250 محصلینو ته د کابل پوهنتون او 240 تنه محصلینو ته په ننګرهار پوهنتون کی اول نمره نه څلورم نمره پوری او هغه محصلین چی ډیر غریب وو او یا د رحمان بابا، میرویس هوتک او احداد لیسو نه فارغ شوی وو بورس ورکول کیده. د طالبانو په دوره کی چی د استادانو د عایداتو منبع کاملآ صفر وه. استاد صافی لخوا د چپرهار ولسوالی ټولو لیسو او ابتدایو ښوونځیو استادانو ته معاش ورکاؤ. همدارنګه د کان، مزینی، زاخیلو او حصارک لیسی او د مزینی د اناثو ابتدایی ښوونځی استادانو ته معاش ورکولکیده. استاد صافی دغه لیسی او ابتدایه ښوونځی د سقوط څخه وساتل. همدا رنګه استاد صافی په 1996 کال کی د زاخیلو د ابتدایی ښوونځی او لیسی ډبره کیښوده او په 2003 کال کی د پوهنی وزارت لخوا رسمی کړه.

همدا رنګه صافی صیب د طالبانو په وخت کی په افغانستان کی د کابل سری میاشتی، علومی اجتماعی سره په رسمی توګه هره میاشت د خیاطی کورسونه جوړول. د جامو ګنډلو پروژی او غذائی موادو مرستی به یی د کونډو، یتیمانو او معیوبو سره کولی.

د کرهنی په برخه کی د لمړی ځل لپاره صافی صیب د مجاهدینو د بریالیتوب وروسته په 1992 کال کی په زاخیلو او کان کی کا ریزونه پاک کړه او روداتو او چپرهار ولسوالیو کی میوه داری او د توتانو نیالګی توزیع کړه. همدا رنګه د صحت په برخه کی استاد د طالبانو په دوره کی په کابل کی د جمهوریت او عالی اباد د روغتونونو ترمیمول او رنګول سرته رسولی دی .

استاد باطن شاه صافی په خپل ژوند کی افغانانو ته ډیر خدمتونه کړی. ما یی تا سوته صرف یو څو مثالونه ولیکل. د استاد په خدمتونو کتابونه لیکل کیږی. استاد صافی په 15فروری 2016 کال کی د ورپیښی ناروغی له امله په ننګرهار کی خپل روخ پاک رب ته تسلیم کړ. په اخیر کی الله پاک ته لاسونه لپه کوم چی د استاد صافی صیب دغه کارونه ستا د رضایت سبب وګرځی او د مرحوم روح پری خوشحاله شی.

# څو سپارښتنې

د هغو کسانولپاره څوسپارښتنې چې عمرونه يې 30 ، 40 يا 50 کلونو ته رسېدلي وي او يا تر دې هم لوړ وي!

**لومړۍ سپارښتنه:**

هر کال وينه ورکړئ، که څه هم چې هېڅ اړتيا ورته ونه لرې، او يا هېڅ ناروغي ونه لرې .

**دوهمه سپارښتنه :**

تل اوبه څښه، که څه هم چې تږی نه وې، او اړتيا ورته ونه لرې؛ ځکه ډېرې او لويې ناروغۍ په بدن کې د اوبو له کموالي څخه دي.

**دريمه سپارښتنه:**

سپورت کوه، که څه هم چې وزګار نه وې او زيات مصروفيتونه ولرې، بدن هرو مرو بايد حرکت وکړي، که يوازې په تګ، يا لامبو او يا کوم بل ډول سپورت سره وي هم.

**څلورمه سپارښتنه:**

خوراک کم کړه، د بني آدم لپاره څو وړې داسې مړۍ بسنه کوي، چې هغه ملا يې ټينګه کړي.
د خوراک بې کچې مينه پرېږده؛ ځکه
هېڅکله خير نشته پکې، البته داسې هم نه چې له يوې مخې ځان له خوراک نه بې برخې کړې، بلکې د خوراک اندازه يو څه کمه کړه.

**پنځمه سپارښتنه :**

تر وسه هڅه کوه چې موټر استعمال نه کړې، کوشش کوه کوم ځای ته چې ځې، په خپلو پښو لاړ شه، لکه جومات ته، دوکان ته، د يو چا پوښتنې، يا کوم بل کار لپاره.....

**شپږمه سپارښتنه:**

غوسه پرېږده! خپګان پرېږده! کوشش کوه په هغو شيانو سترګې پټې کړې، چې ډېر اړين نه وي.
په لوی لاس ځان په جنجالونو کې مه ښکېلوه؛ ځکه دا ټول روغتيا زيانمنوي، او د ځان او نفس ځلا او ښکلا له منځه وړي.

**اوومه سپارښتنه:**

هغه متل دی وايي: مال دې لمر ته پرېږده او ته سيوري ته کېنه.
مه په خپل ځان کم نيتي کوه او مه په خپلو شاوخوا کسانو؛ ځکه مال ددې لپاره پيدا شوی چې ژوند پرې وکړو، نه دا چې د مال لپاره ژوند وکړو.

**اتمه سپارښتنه :**

په هېڅ شي پسې افسوس مه کوه. نه په هغه شي پسې چې نه دې دې تر سره کړي، او نه په هغه شي پسې چې نه دې دي تر لاسه کړي.
په دې ټولو سترګې پټې کړه، بلکې ښخې يې هېر کړه، يعني په تېر پسې لاسونه مه مروړه، د راتلونکې په اړه فکر او کار وکړه.

**نهمه سپارښتنه :**

عاجزي... عاجزي... مال، دبدبه، زور، نفوذ او اغېز .... دا ټول په کبر او غرور سره خرابېږي.
عاجزي هغه څه دي چې خلک درته رانږدې کوي، او پرې ګرانېږې، او په عاجزۍ دې الله جل جلاله لوړوي او قدر دې پرې زياتوي.

**لسمه سپارښتنه :**

که دې د وېښتانو رنګ سپين شو، دا په دې معنی نه دي چې عمر دې پای ته ورسېد، بلکې دا ددې دليل دی چې تر پخوا دې ښه ژوند پيل شو، نېکپاله اوسه، د الله په ذکر ژوند تېروه، د ژوند له حلالو او روا خوښيو خوند اخله.

**نه يې وينې که په قصد کوي شيطانه منافقه**
**زه مړ کيږمه ته چُپ يې، مُسلمانه منافقه**
**د ځوانانو، اتلانو، د ښارونو قاتل ته يې**
**ورځ به راشي بيا به ګورو پاکستانه منافقه**
**شهيد ارمان لوڼي**





# د ورېښمو کاروان



## شېبه ګهيځ

## د دي ګنې شاعره

### د شېبه ګهيځ لنډ پېژندنه

نوم شېبه تخلص ګهيځ د حاجي محمد زمان لور، په ۱۳۷۸ هـ.ش کال د لغمان ولایت په قرغه يي ولسوالۍ کندې کلي کې زېږدلې ده. اوسمهال کابل په چهلستون کې استوګنه او د ژوند شېبې تېروي. لومړنۍ زده کړې په ۱۳۸۳ هـ.ش کال د کابل په غازي ادې عالي ليسه کې پيل او په ۱۳۹۴ هـ.ش کال د دولسم ټولګي څخه له همدې ښوونځي فارغه شوه.په همده کال د کانکور ازموينې له لارې د کابل پوهنتون ژبو ادبياتو پوهنځي پښتو څانګې ته برياله او په ۱۳۹۵ هـ.ش کال يې لوړې زده کړې په ياده پوهنځي کې پيل کړې. خپلو هڅو او کوښښونو ته په دوام سره په ۱۳۹۸ هـ.ش کال شېبه له يادې پوهنځۍ په کادري نمرې فارغه شوه. په ۱۳۹۹ هـ.ش کال يې بيا هم د ازموينې په ورکولو سره د کابل پوهنتون ژبو ادبياتو پوهنځي پښتو څانګې ماسترۍ ته برياله او اوسمهال په پښتو ادبياتو کې د ماسترۍ دورې محصله ده.

د شاعرۍ او ليکوالۍ فن يې د ښوونځي له دورې ورسره وه؛ خو په معياره برابره شاعري او ليکوالي د پوهنتون له دورې پيل کړې. شعرونه، لنډې ادبې ټوټې او تحقيقي ليکنې يې په متفرق ډول هغه مهال په هغو مهالنۍ کې چې په پښتو څانګه کې لکه: انګازه، اقرا او سپين غر خپرېدله چاپ شوي، ددې تر څنګ په هېواد ورځپاڼه کې هم ليکنې خپرې شوي دي. د مني (خزان) او کرونا په نامه نظمونه يې د اروپا په بانو مجله کې هم خپرې شوي دي.

شېبه له شاعرې سره سره د لنډې کيسې او ناول ليکنې مهارت هم لري، چې د سپېڅلې او بې کوره تر نامه لاندې لنډې کيسې دي. د رڼا په لټه يې نا چاپ ناول دی، چې د افغانستان معلوماتو مرکز لخوا جشنواره چې په ۱۳۹۸ ه.ش کال کې جوړه شوې وه؛ د لس غوره شوي ناولونو په کتار کې راغی.

د رڼا په لټه (ناچاپ ناول). ۲: سجده (ناچاپ ناول)

پښتو ښځينه شاعرۍ کې ښځينه احساس نه پاللو لاملونه (څېړنيز اثر ناچاپ)

دا يې هم د کلام بېلګې:

### ژوند (نظم)

دا شېبې دي وارخطا
دا ګړۍ خومره چټکه
چې نرۍ ته شوم روان
نو راپورې شو طوفان
که نږدې و يا هم لرې
خو غروبه لرې لرې

د لومړي ګام سره يوځای
بيا د ستونزو شو سيلاب
چې ګامونه لوړېدل و
بيا شو ډېر حساب کتاب
دا شېبې دي وارخطا
دا ګړۍ خومره چټکه
د ژوندون سفر دی لنډ
واټنونه ژر لنډېږي

پرونۍ ورځ مې لا ياده
نن هم اوښکې کړېدل دي
زه سبا ته شم په تمه
سبا وخته پرون شوي
خومره هيلې اميدونه
څه خوبونه څه فکرونه
څه پوره شي څه نيمګړې
دا ژوندون دی دا رسمونه

دا رنګونه دا وختونه
پوره نه شول اميدونه
دا شېبې دي وارخطا
دا ګړۍ خومره چټکه
شېبه ګهيځ
٦/١٢/١٣٩٨



# غزل

چې جنت کې به هم جنګ وي او که نه
ژوند به دغسې بدرنګ وي او که نه
ښېنتانه به نور په کومه خوا کې اوسي
دوی به هلته څنګ په څنګ وي او که نه
دې خبرې راته ذهن خراب کړی
چې جنت کې به ملنګ وي او که نه
دا دوه مخې د دنیا به په کې اوسي
دوی به هلته په یو رنګ وي او که نه
دا دنیا کې شبېه ګونګه زنده ګې کړه
چې جنت کې به هم ګونګ وي او که نه
شبېه ګهیځ

## غزل

د ژوند مسافرت کوم روان لا لوی کاروان دی
د شا پلونه ویجاړې هم یې مخې ته حیران دی
کېږدی د غرو لمنې یا هم سوځنده بیدیاوې
دا ژوند څنګه ازاد و او دا ولې اوس طوفان دی؟
هوا د ګودر غاړه څه پیتاوې څه جرګې وې
په کلي کې مزې وې د ښار ژوند خو یو زندان دی
ټک ټک د ساعت ته ګوره ژوند مو بند دی په ګړیو
د ژوند هره شېبه مو د ساعت په ستن روان دی
حساب کتاب مو مخکې او لوی ذات ته مو ورتګ دی
فنا پیغمبران شول باور مه کړه چې جهان دی
غوټۍ د زنده ګې مې غوړېدو ته هیله منه
ګهیځ وربانديې نه راځي ماښام دی خزان دی
شبېه ګهیځ
۱۲/۱۱/۱۳۹۸



## غزل

لا د ژوند په لویه لاره لا د تورو شپو مزل دی
څه بې رحمه څه خونکاره زمانه هم تش اجل دی
مخامخ چې زه را درومم نوې لاره را څرګند شي
چې واپس په خپله لار شم نو پاک شوی هغه پل دی
بس ساعتونه دې تېرېږي هم د اوښکو رمې پیایم
شم چې ژوند ته برابره بیا دا وخت راته په چل دی
ځنځېرونه دې شرنګېږي او ماحول څومره خاموشه
لویه خدایه ځواب غواړم دا پوښتنه مې بې حل دی
څنګه خوب کوي ظالم دې څه بې درده دې دا زړونه
هغه خان ته وایه ګوره د کور څنګ ته دې اور بل دی!
ډېر دردونه نه خوړېږي څه بې درده دې دا زړونه
په ګاونډ له لوري مړه شول دی بادار پخپله غل دی
شېبې درونډ او سپک په خدای دی بنده له دې عاجزه
مشران نه وایي بې ځایه خپل عمل د لارې مل دی
شبېه ګهیځ.......۱۵/۵/۱۳۹۶

## په افغانۍ ټولنې کې نجلۍ


ساه ایستو کې ګناه ده خندیدل مې ګناه بولي
وایي پټه خوله ده غوره غږېدل مې ګناه بولي
ازادي مو ده سلب شوې تل جګړه ده او جګړه ده
دا کافر که مسلمان دې زېږېدل مې ګناه بولي
زه ازاده خدای پیدا کړم نه کنیزه د خانانو
غلامي راځخه غواړي رغبدل مې ګناه بولي
زده کړه شرم شرم اواز شرم مخ مې شرم هر څه شرم
د ستم په مقابل کې جنګېدل مې ګناه بولي
ما ته وایي ته یې ښځه یا د کور یا د ګور یې
د جاهلو دې وینا ته پارېدل مې ګناه بولي
د رواج او دود په نوم مې قرباني ورکړې هر وخت
بې ګناه چې سنګسارېږم ژړېدل مې ګناه بولي
شبېه نه اوري له خپلې هرې ژمنې او خبرې
لا غوړېږم خو افسوس چې غوړېدل مې ګناه بولي

## غزل

دنیا داسې یو کتاب دی کله ښه شي کله بد
هره پاڼه یې حساب دی کله ښه شي کله بد
هر ګړی یې لیک د کاڼو هر ساعت یې یادښتونه
پای شېبې سوال او ځواب دی کله ښه شي کله بد
د ریان حورو په تمه اوږده کړې دې نفلونه
ټوله ریا ده که ثواب دی کله ښه شي کله بد
د نیکۍ پله درنه ده که سپکه نیوهېږم
هر یو چارې اوس عذاب دی کله ښه شي کله بد
ښایسته باغچو نه بوی د لونګ راشي
معطر ګل د ګلاب دی کله ښه شي کله بد
رود نیل په څېر روان که د ژوند دا قاعده ده
لنډ مزل لکه حباب دی کله ښه شي کله بد
دا شبېه به د رحمت وي که زحمت نا مالومه
ځمکه تندر تور سحاب دی کله ښه شي کله بد
شبېه ګهیځ.....۷/۴/۱۳۹۹

## غزل

لمر نه یم سپوږمۍ نه یم اسمان سره نږدې نه یم
زه د دغې ځمکې د ښایست حصه په دې نه یم
ښه ده چې د ظلم په بنیاد باندې ژوند نه کوم
ښه ده چې د ګل غوندې ازغو ته په سجدې نه یم
پام کوه چې ما د جنګ لپاره استعمال نه کړې
زه خو ګرانه ستا په لاس کې غشی د لیندې نه یم
لا خو د غزل ار ته سینه کې مزل پاتې ده
لا خو را تېر شوی د ژوندون له تجربې نه یم
خامخا چې ژوني پتنګان د خپل ښایست په اور
دومره پلوی هم د ریا د عقیدې نه یم
شبېه



Commented [1]:

# د دعوت مجلې ۳۲ کلیزه دې بختوره وي

## د دعوت مجلې هره ګڼه د خپلو لوستونکو معلومات ورزیاتوي



**لیکوال : حبیب الله غمخور**

سویډن - مالمو

د ۲۰۲۰ ز کال، اپریل

د دعوت مجلې هره ګڼه او په هغې کې راټول سوي مطالب او انځورونه د دې شاهدي ورکوی چې تاسو په څومره مینه او علاقه د دې خپرونې د نشر لپاره کار کوئ، او بیا یې تر موږ لوستونکو پوری رارسوئ.

دا موږ ټول منو او د قدر په سترګه ورته ګورو چې تاسو ملت او انسانیت ته ژمن ژورنالیست او د دې مجلې مسئول غواړی لدې لاري خپل ولس او لوستونکو ته د ملی خدمت د چوپړ جوګه سئ .

زه پوهېږم چې تاسو د دې خپرونې لپاره د مضامینو د راټولو، تنظیمولو او چاپولو لپاره څومره زیار او زحمت باسی.

ستاسو دا هلي ځلی چې د نړۍ په مختلفو هیوادونو کې د قلمی همکارانو او لیکوالو سره اړیکي نیول، په کنفرانسونو، سمینارونو او غونډو کې فعال ګډون ساده او اسانه کارندی، دا پراخه حوصله، یو ملي او مسلکي هوډ غواړي په همدې خاطر موږ ټول د دعوت مجلې لوستونکي او مینه وال ستاسو دې زیار او زحمت ته د قدر او درناوی په سترګه ګورو.

په حقیقت کي زه چې د دعوت مجلې هر ګڼه په ډېره مینه او تلوسه لولم د هغې په لوستلو سره پدې ډاډه کېږم هغه هیوادوالو کوم چې دعوت مجله ترلاسه کوي په کومه اندازه یې پوهنیزه، علمي، هنري او معلوماتي تنده پرې ماتېږ ي او ز ما د معلوماتو له مخې د مینوالو او لوستونکو شمېر مو د هري ورځې په تېرېدو سره زیاتېږي.

د دعوت مجله په رښتیا هغه رسنۍ ده چې تل یې د افغانستان اصیل فرهنګ او کلتوري ارزښتونه پاللي او بېله کوم ژبني، مذهبي، سمتي تعصباتو مو په خپلو نشراتي پاڼو کې د افغان ولس ټولو ملي، ټولنیزو، فرهنګی او اسلامي ارزښتونو ته جدي پام ساتلی دي.

تاسو د دې مجلې د خپرونکي په توګه د دې ویاړ لرئ چې پدې حساسه مرحله کي چې زموږ د ولس لپاره برخلیک جوړونکې ده د دعوت مجلې په مطالبو او مقالو کې سولې غوښتونکی، چاپیریال، طبعي زېرمې، اقتصاد، سیاسي اصلاحات، وده او انکشاف، پوهنه، زراعت او هرډول پرمختګنو په اړوند له معلوماتو څخه ډک نشرات شوي دي .

د دې ټولو معنا دا ده چې د دعوت مجله د عصر په ژبه ښه پوهیږي، اعتدال او معقولیت ښه ساتلاي شي او د وخت له تقاضا او غوښتنې سره سم مزل کولای ښي او پرمخ درومي .

د ټولنپوهانو له نظره یوه ملت هغه وخت ژوندی پاته کېداي شي چې ژبه او کلتور ئې ژوندی وي، ژبه او کلتور د راډیو، ټلوېزیون،کتاب، مجلې، ورځپاڼو، تیاتر، سینما او د نورو فرهنګی وسیلو په مرسته ژوندی ساتل کېداي، پیاوړې او غوړېداي شي. تاسو د دعوت مجلې د مؤ سیس په توګه د۳۱ کاله پدې وطني او ملي لاره کښي ستر رول لوبولي او ستر خدمت مو ترسره کړی دی .دنده مو ساده نه بلکي ډېره درنه او له مسولیتونو ډکه ده.

پدې ملی او فرهنګی لار کېي ستاسو د لاپراخې حوصلې او غښتلی هوډ په هیله، بریالي اوسئ .

پدې هیله چي په ژوندکې مو یوازي له بریاوو او خوښیوسره مل وي.

ومن الله التوفیق

دعوت

ملي خپلواکه خپرونه

۳۲ کلیزه

۱۹۸۸ - ۲۰۲۰

# ليکوال او ژورنالست، محمد طارق بزګر

يادونه: دا ليکنه د سپرغۍ ويبپاڼې څخه راخيستل شوې ده چې د سپرغۍ څخه په منني دلته د دعوت مينه والو ته وړاندې کيږي




## ليکنه: ولي الله ملکزی

محمد طارق بزګر (ملکزی) يوه ځوانه کلتوري څېره ده چې له هيواده د باندی د افغان کلتور او ارزښتونو د ژوندي ساتلو په پار، له ۱۹۸۸م کال راهيسي د ناروې په هيواد کې د (دعوت رسنيز مرکز) چې د دعوت مجله، ددعوت مېډيا ۲۴ او افغان سباوون ويبپاڼې لري فعاليت کوي. د دعوت مېديا ۲۴ او افغان سباوون ويبپاڼې اوسمهال، د افغان قلموالو په مرستې د هيواد د سياسي، فرهنګي او ټولنيزو پېښو د يو مهم أرشيف او د ورځنيو مسايلو اړوند د ولس د نظرياتو او عقايدو د انعکاس يوه مهمه وسيله ده.

محمد طارق بزګر په ۱۳۴۵ لمريز کال کې د نرنګ د چار قلعه په کلي کې، د کونړ د يو پيژندل شوي او تعليم يافته، او علم پروره شخصيت، عبدالقيوم بزګر (ملکزي) په کور کې زيږيدلی دی. لمړنۍ او منځنۍ زده کړې يې د کابل ښار په مختلفو ښوونځيو کې سرته رسولې، خو کله چې شوروي اتحاد په افغانستان باندی خونړی ناتار ګډ کړ، نو هغه د نادريې ليسې په يولسم ټولګي کې وو. سره د دی چې کورنۍ يې لا په کابل کې وه، هغه دغه مهال پېښور ته هجرت وکړ. د هجرت پر مهال هلته اسلاميه کالج ته لاړ او بيا يې د پېښور په پوهنتون کې سياسي علوم او اسلاميات ولوستل.

په ۱۹۸۸م کال کې د ناروې هيواد ته کډه شو او Nord University Bodø ژورناليزم ولوست په دې يې اکتفا ونکړه د ژورناليز او تعليم سره د مينې له امله يې په همدې ژورناليزم کې يې نورې لوړې زده کړې د کانبرن په پوهنتون کې وکړې او هم يې د مسلکي ژباړې بنسټيزې زده کړې د Oslo Metropolitan University (OsloMet – storbyuniversitetet). تر سره کړې دي.

نوموړي وکولای شول چې د دعوت له پيل څخه (۱۹۸۸) يواځې د دوه زرم کال پورې ۲۳٦ ګڼې په پښتو، دري، انګليسي او ناروېژي ژبو خپرې او د دنيا څه د پاسه ٥٦ هيوادونو ته په خپل شخصي لګښت افغانانو او د افغانستان مينه والو ته ورسوي. د ډاکټر نبي مصداق، کانديد اکادميسن استاذ سيستاني، ډاکټر مجاور احمد زيار او رحمت آريا په څير تکړه څېړونکي او ليکوالان په دی باور دي چې په تک تنها صورت، په يو پردي هيواد او چاپيريال کې د اقتصادي ستونزو سره سره، د عوت مجلې چلول او په څنګ کې يې د د دعوت مېډيا ۲۴ ويبپاڼې (www.dawatmedia24.com) او افغان سباوون www.afghansabawoon.com او په ټوله کې د دعوت رسنيز مرکز چلول او هغه هم د دومره کلونو لپاره جاري ساتل، د هر چا د وس کار نه دی. د دعوت مېډيا ۲۴ او افغان سباوون ويبپاڼې څلور ويشت ساعته تازه خبرونه او ادبي او سياسي تحليلي ليکنې خپروي.

بزګر د خبريالۍ اړوند په نړيوالو علمي کورسونو او ورکشاپونو کې برخه اخيستې او پايله کې يې عملي سندونه تر لاسه کړيدي چې مهم يې په



کوپنهاګن، برلين، هنګري، پراګ او کييف کې چې هر ځل د شلو هېوادونو ژونالستانو په ګډون جوړ شوی وو. هغه د ناروې تر ټولو لوی دولتي ټلويزيون NRK سره د ژورنالست په توګه کار کړی او د نورو کارونو په څنګ کې يې د کابل ډزې Skuddene i Kabul مستند فلم چې د اروانښاد داود خان باندې راځرخي چې د بزګر او ورسره ټيم په هڅو په ډير لوړ مصرف جوړ شوی او ډيرې جايزې يې ګټلی دي د يادولو وړ دی. دا ستره هنري لاسته راوړنه د بزګر او افغانانو لپاره وياړ دی کله چې يو افغان خبريال وکولی شي په يوې معتبرې لويديځي رسنۍ کې تر دې ځايه ورسيږي. د دې په څنګ کې محمد طارق بزګر د ۱۵ کلونو لپاره د ناروې د معارف وزارت کې د مفتش دنده تر سره کړې او هم يې د ناروې په دولتي

پوست کې ۱۰ کاله کار کړیدی. اوسمهال د خپلو ډیرو فرهنگی فعالیتونو تر څنګ د رسمي ژباړن دنده هم مخته وړي، پر څو کتابونو کار کوي چې ځینې یې بشپړ او یو شمیر به ئې وروسته د چاپ جوګه شي.

**د بېلګې په توګه :**

۱/ نارویژی پښتو لوی قاموس چې تر اوسه (۵۰۰۰۰) لغتونه لري چاپ ته چمتو چې د همدې ۲۰۲۱ کال په ترځ کې به چاپ شي.

۲/ پښتو ( ۱۰۰۰) لنډۍ د انګلیسي له ژباړې او تشریح سره .

۳/ پښتو (۱۰۰۰) متلونه د انګلیسي له ژباړې سره .

۴/ د دعوت د خپرو شوو لیکنو او مرکو کتابونه د کلکسیون په بڼه د کار لاندې

۵/ رښتیني کیسه (یوه افغانه ښاپیری په کیف کې) په ۲۰۱۹م کال چاپ شوی.

٦/ کله چې طوطي وتښتېد د ماشومانو کیسه. چاپ ته تیاره

۷/ زموږ کاکا مُراد (ډاکټر ناکامورا) چاپ ته چمتو

۸/ An Afghan Beauty in Kiev په انګلیسي ژبه چاپ ته تیار

**په علمی غونډو او سیمینارونو کې برخه اخیستل :**

د نړیوالو سازمانونو لخوا جوړ شوي د بېلګې په توګه :

۱/ د۲۰۰٦کال داپریل پر ۲۵ او۲٦ ((د اکو سیستم، د ساینس نظر او چلنجونه او د اکو سیستم او د غربت مخنیوی)) تر نامه لاندې د ملګروملتو د سازمان لخوا علمي کنفرانس او ورکشاپ چې د ډنمارک هیواد د کوپنهاګن په ښارکې د دې هیواد د بهرنیو چارو وزارت په مټ جوړشوی وو.

۲/ د۲۰۰۷ کال د جون له دوهمې نه د جون تر څلورمې پورې، د قانون اینښودونکو ټولنو له خوا د ( G8 سترو صنعتی هیوادونو اجنډا د ځنګلونو په نه وهلو سره د ګازونو د تولید کمولو اجندا) تر نامه لاندي د برلین ښار د المان هېواد په پارلمان (بونډسداګ) کې .

۳/ د ۲۰۰۷ کال اکتوبر ۲۹ څخه د نومبر تر ۲ دوهمې پورې، د ناروې د تروندهایم ښار کې د ملګرو ملتونو لخوا کنفرانس: په نړۍ کې ټول ژوندي موجودات او په ځانګړې توګه د هغوی ژوند کول، اوسیدل، ۲۰۱۰ او تر هغه وروسته) په دې کنفرانس کښې د ۸۰ هیوادونو د چاپیریال ساتنې لوړپوړو چارواکو برخه درلوده.

۴/ د ۲۰۰۹ کال د سپتمبرله ۱۳ څخه تر ۱۹ پورې د پولنډ په ګدانسک ښار کې د میډیا ۲۴ لخوا چې مرکز یی په سویس کې دی، د فنلند هیواد د بهرنیو چارو وزارت په مالي مرسته د (د اوبو د بیځایه مصرف مخنیوي) ترنامه لاندي ورکشاپ او کانفرانس چې د ۱۷ هیوادونو ژورنالستان وربلل شوی وو او د ژورنالستانو د لا روزنې او معلوماتو له پاره جوړ شوی وو .

۵/ د ۲۰۱۰ فبروري له لمړۍ نه تر ۵ نیټې پورې د ملګرو ملتو او د ناروې د حکومت له لوری د (ټولو ژوندي موجوداتو ساتنه او د دوامدارې پرمختیا له پاره کارکول) تر نامه لاندي د ناروي هیواد تروندهایم په ښار کې علمي کنفرانس.

د دې پورته یادو شویو کنفرانسونو تر څنګ په ډیرو افغاني غونډو کې چې په امریکا، انګلستان، جرمني، ناروې، سویډن، افغانستان او نورو هیوادو کې جوړې شوي فعاله برخه اخیستې ده.

**ستاینلیکونه:**

محمد طارق بزګر ملکزی د خپل فرهنګی چوپړ په درشل کښې د امریکا په شمالي کلیفورنیا کې افغاني کلتوري ټولنه، په جرمني کښې د افغانستان د کلتوری ودې ټولنې، په امریکا کې نور ټلویزیون، سویډن د مالمو ښار کې د دوستۍ فرهنګی ټولنې، ناروې کې د افغانستان سفارت، او د سویډن کې د ځلمو پاڅون ټولنې له خوا په ستاینلیکونو او ویاړ غونډو سره نازول شویدی. نوموړي د افغانستان د مختلفو اړخونو په اړه د ۵۰۰۰ په شاوخوا پښتو، دری، اردو، انګلیسي او نارویژي ژبو کتابونه او مجلې په خپل کورني کتابتون کې لري. بزګر د کتابونو سره له ډیر پخوا مینه او علاقه لري، همدا ډول په زرګونه انځورونه، ویډیوئې کسټونو، سی ډي او کسټونه چې په ټولو کې د افغانستان اړوند معلومات راټول شوی د بزګر د کورني کتابتون برخه جوړوي.

دعوت رسنیز مرکز
Dawat Media Center
Norway
1988-1367

# زمری، ګیدړ او خر

کوم ګیدړ د زمري له څنګ تیریده ګوري چې زمری ویده دی، ګیدړ له فرصت ګټه پورته کړه، پړی یې راواخیست او زمری یې کلک پړې وتاړه، کله چې زمری راویښ شو، ګوري چې بند په بند تړل شوی، چې هرڅومره زور یې وواهه ځان یې خلاص نشو کړای، دې وخت کې یو خر راغی، زمري ورته وویل:

که دې زه خلاص کړم نو نیم ځنګل به تاته دروبښم، خره ورسره ومنله د زمري له پښو یې پړی خلاص کړ، کله چې زمری راپاڅیده او ځان یې وڅنډه، نو خره ته یې مخ وراواړاوه ویل زه تاته نیم ځنګل نه درکوم.



خره وویل :

ولې تاخو لږ مخکې راسره همداسې ژمنه وکړه.

زمري ورته وویل :

نیم ځنګل نه بلکې ټول تاته پریږدم، ځکه په داسې ځای کې چې ګیدړان راپاڅیږي او زمریان تړي او بیا بیرته د خره پرمټ خوشې کیږي، هلته نور ماته اوسیدل نه دي په کار.

**درس:** هیڅکله باید دومره غافل او خوبولي نشو چې ګېدړان مو وتړي، او بیا خرو سره د خپل ځان د خلاصولو په پار معاملې ته اړ شو.

abuses, including sexual abuse. Afghanistan continued to be, according to UNAMA, "one of the deadliest countries in the world for children", with both pro-government and anti-government forces responsible for more than 700 child casualties each. In October, First Vice-President Amrullah Saleh announced ordering the arrest of an individual who reported civilian casualties in an Afghan government air strike on a school, which had killed 12 children. Later, the Takhar provincial governor's spokesperson reported that he was removed from his position for reporting on child civilian causalities caused by the Afghan security forces.

## Impunity

The peace agreement between the USA and the Taliban made no mention of human rights or of women. Under the agreement, impunity was preserved for serious crimes under international law by all parties. In September, the US administration cemented this position by imposing sanctions, including asset freezes, against the Prosecutor of the ICC, who was poised to lead an investigation into war crimes and crimes against humanity by all parties to the conflict since 2003.

## Right to health

Afghanistan's weak health care infrastructure was overwhelmed when COVID-19 swept across the country. A total of 52,011 cases and 2,237 deaths were recorded, which almost certainly did not represent the true scale of infection in the country. In most Afghan provinces there was no possibility of receiving a COVID-19 test, and samples were transported to the capital. The government's response – implemented with the support of international donors – was sharply criticized, with allegations of corruption, and people with the greatest need of assistance being left behind. During quarantine, there were many reported cases of poor households having not been included in lists for the distribution of bread because they were not members of the community mosque, while those who were relatively better off received bread.

Internally displaced people, who were already living in precarious conditions before the pandemic, faced particular difficulties in accessing health care and basic amenities. Across the country, the number of people living in poverty remained high, at 55% of the population, and this figure was predicted to rise because of economic slowdown caused by the pandemic.

## Refugees and internally displaced people

Iran, Pakistan, Turkey and EU countries continued to forcibly return migrants and asylum-seekers to Afghanistan, in violation of the principle of *non-refoulement*. These returns, which slowed for a period during the pandemic, were alarming in light of the health care situation in Afghanistan, the unabated conflict, and high levels of poverty.

The Iranian authorities forcibly returned nearly 700,000 people between 1 January and 31 October. Iranian border forces were also responsible for attacks on Afghan migrants, including cases of torture and drowning in May and an arson attack on a vehicle carrying migrants in June. The attacks were not investigated, and no action was taken against the perpetrators.

According to the International Organization for Migration, there were 4 million people internally displaced in Afghanistan in 2020, an increase from 1.2 million in 2016 and half a million in 2013. Throughout this time, internally displaced people languished on the brink of survival, in many cases living in densely populated camps and facing constant difficulties accessing clean water, health care and employment. Their situation deteriorated further as a result of the COVID-19 pandemic.

## Women's and girls' rights

### Violence against women and girls

Women and girls continued to face gender-based discrimination and violence throughout Afghanistan, especially in areas under Taliban control, where their rights were violated with impunity and violent "punishments" were meted out for perceived transgressions of the armed group's interpretation of Islamic law.

Violence against women and girls remained chronically under-reported, with women often fearing reprisals and lacking confidence in the authorities if they came forward. According to the Afghanistan Independent Human Rights Commission (AIHRC), more than 100 cases of murder were reported during the year. Where these cases were reported, there was a persistent failure to investigate them. In some cases, victims of violence came under pressure from their communities or state officials to withdraw their complaints, or "mediation" was used to resolve complaints beyond the protection of the law. As a result, there was widespread impunity for the perpetrators of beatings, killings, torture and other ill-treatment, and corporal punishments.

## Women's participation in government

Women's participation in government remained limited despite some key improvements in the situation of women since 2000. Women's participation in roles in provincial and local governments remained largely restricted, particularly in the social protection and education sectors. The few women in government faced intimidation, harassment and discrimination. They were not able to access office resources on equitable terms with male colleagues and were often denied overtime work and payment. Women were further denied adequate opportunities in decision-making roles and the attacks they faced while working in government offices were rarely investigated, with impunity persisting for the perpetrators.

## Children's rights

Children continued to face harassment and sexual violence. Despite the sexual abuse of children being well-publicized, and the abusive practice of "bacha bazi" (male children being sexually abused by older men) being criminalized in 2018, the authorities made little effort to end impunity and hold perpetrators accountable.

Children lacked adequate opportunities to pursue their right to quality education. According to UNICEF, over 2 million girls remained out of school, and according to government figures about 7,000 schools in the country had no building. Large numbers of children continued to be pressed into forced labour or begging on the streets.

## Freedoms of expression, association and assembly

The conditions grew more difficult for journalists, media workers, and activists to function due to increasing insecurity and the targeted killings of activists, journalists, and moderate religious scholars. Journalists raised concerns over the lack of access to information and did not enjoy adequate protection from attacks by armed groups. The government introduced a draft mass media bill, which would have imposed further restrictions on the right to freedom of expression. It was forced to withdraw the bill in the face of widespread criticism.

Discussions were ongoing in parliament over a draft bill on public gatherings, strikes and demonstrations, which if passed would significantly restrict the right to freedom of peaceful assembly.

The cabinet rejected a third draft bill on NGOs after Amnesty International raised concerns that it placed unnecessary restrictions on registration processes and operational independence.

## Human rights defenders

Attacks and targeted killings against activists, human rights defenders and journalists increased. Human rights defenders continued to come under attack, facing intimidation, violence and killings. In March, government officials in Helmand province physically assaulted human rights defenders who had alleged corruption. They needed hospital treatment for their injuries. In May, Mohammad Ibrahim Ebrat, a facilitator of the Civil Society Joint Working Group, was attacked and wounded by unknown gunmen in Zabul province. He subsequently died of his injuries. In June, two staff members of the AIHRC, Fatima Khalil and Jawad Folad, were killed in an attack on their car in Kabul.

In December, the Afghan government established the Joint Commission for protection of human rights defenders and civil society activists in Afghanistan. The Commission will work under the Second Vice-President Mohammad Sarwar Danish, and the members include activists and the AIHRC. It remained too early to assess the Commission's effectiveness in protecting activists or ensuring attacks and threats are investigated and perpetrators are prosecuted.

# DAWAT

Vol. 239-240 Dec. 2020
www.dawatmedia.com
ISBN: 978-82-691395-2-5

DAWAT is independent publication. Established in 1988. DAWAT is not associated with any political organization. The views and ideas expressed in DAWAT are those of the writers and are not necessarily those of the editor. All letters and articles sent to the editor are welcomed but will not be returned.

Editor and Publisher: M. Tariq Bazger,
Dawat Media, V/ M. Tariq Bazger
Voldgt. 37A, 2000 Lillestrøm, NORWAY
Tel. +47.63844384 Mobil. +47-90856195, dawatmedia@gmail.com

Annual Subscription US$ 50
AC# 0530 2294668 BIC (SWIFT-adresse): DNBANOKKXXX
A/C for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: 557320




## AFGHANISTAN 2020

The current conflict in Afghanistan entered its twentieth year and continued to claim large numbers of civilian casualties. Attacks by the Taliban and other armed groups deliberately targeted civilians and civilian objects in violation of international humanitarian law; sites that were attacked included a maternity hospital and educational institutions. There was no accountability for these crimes as impunity persisted. Women and girls continued to face violence, harassment and intimidation. Violence against children persisted. Afghan asylum-seekers continued to be forcibly returned to Afghanistan, particularly from Iran where some had been attacked by the Iranian security forces. The Afghan Government established a Joint Commission for protection of human rights defenders and civil society activists in Afghanistan; the Commission will work under the Second Vice-President Mohammad Sarwar Danish, and the members include activists and the Afghanistan Independent Human Rights Commission.

### Background

In February the Afghan Taliban signed a peace agreement with the USA ahead of a proposed withdrawal of US troops. The agreement included a pledge to release "up to 5,000" Taliban fighters held in Afghan government prisons from a list initially given to the USA, in exchange for 1,000 members of the Afghan security forces held by the armed group. The Afghan government resisted releasing 400 fighters from the list, who were alleged to be responsible for serious crimes. The proposed release of certain Taliban fighters also triggered concerns from France and Australia as it included those responsible for killing their soldiers. However, under pressure from the USA they too were released; a few who were accused of killing foreign citizens were subsequently transferred to Qatar. Eventually, more than 5,000 Taliban prisoners were released, including prisoners accused of serious crimes.

The US-Taliban peace agreement deferred the question of a political settlement in Afghanistan to direct talks between representatives of the Afghan government and various mainly political groups on one side, and representatives of the Taliban on the other. The so-called "intra-Afghan talks" began in September in Doha, Qatar. There was little representation of women on the side of the Afghan government, and no representation of women in the Taliban delegation. There was also no representation of conflict victims, despite the demands of human rights groups. By December, the negotiating teams had only agreed on an internal guiding principle for the negotiation processes.

### Armed conflict

Despite the peace talks, the armed conflict continued to see civilians injured and killed throughout the year and a rise in the number of people internally displaced. According to the UN Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), 2,177 civilians were killed and 3,822 wounded between 1 January and 30 September. Although the figures represented a 30% reduction in civilian casualties compared with the same period in 2019, the number of civilian deaths remained almost the same.

UNAMA reported that the Taliban was responsible for 45% of the civilian casualties, and the armed group calling itself the Islamic State in Khorasan was responsible for 7% of the civilian casualties between 1 January and 30 September. Armed groups were collectively responsible for the deliberate targeting and killing of civilians, including teachers, health workers, humanitarian workers, judges, tribal and religious leaders, and state employees. The attacks included violations of international humanitarian law, including war crimes, with civilians and civilian objects deliberately targeted. In May, a maternity hospital in the Dasht-e-Barchi neighbourhood in the west of the capital, Kabul, was attacked by gunmen. They killed 24 people, including new-born babies, pregnant women and health workers. No group claimed responsibility for the attack.

Pro-government forces were responsible for more than a quarter of all deaths and injuries between 1 January and 30 September, with 602 people killed and 1,038 injured. These included 83 people killed and 30 injured by international military forces. According to UNAMA, the number of civilian casualties attributed to the Afghan National Army had increased in comparison to the previous year, mainly from airstrikes and ground engagements. UNAMA said violence increased in the lead-up to the peace talks.

Children continued to be recruited for combat, particularly by armed groups and the Afghan security forces – pro-government militias and local police – and faced multiple